پوهندوی آصف بهاند ۲۰۱۶/۱۰/۳۰

# «دا غم دې تل په ما وي...»

## د ملنګ جان نهه پنځوسم تلین

د روسيې په پلازمينه ماسکو کې د بې سرنوشتۍ او بې اسنادۍ په يو عجيب چاپيريال کې يو ځل داسې هم وشول چې د ماسکو ښار په زړه کې، د افغانانو په تجارتي مرکز «سيواستوپل» کې، له نن نه نولس کاله پخوا د ۱۹۹۷ ام کال په اکتوبر مياشت کې د يو شمير افغانانو له خوا د ملنګ جان د څلويښتم تلن له پاره هلې ځلې پيل شوې، مقالې او شعرونه برابر کړای شول او د ۱۹۹۷ کال په نومبر مياشت کې محفل جوړ او په ډير درناوي سره د امين ملنګ د څلويښتم تلين ياد تازه کړای شو.
ما (آصف بهاند) د امين ملنګ د څلويښتم تلين له پاره د «دا غم دې تل په ما وي» تر سرليک لاندې مقاله وليکله چې د تلين په محفل کې ولوستل شوه او په هماغه وخت کې له ماسکو نه په خپريدونکې ادبي فرهنګي مجله «ليمه» کې خپره شوه. دا يې بشپړه پته ده:
«ليمه، په ماسکو کې خپره شوې درې مياشتنۍ ادبي ـ فرهنګي خپرونه، پر له پسې پنځمه ګڼه، د ۱۳۷۶ کال قوس، د ۱۹۹۷ کال دسمبر، ۲۸ ـ ۲۹ مخونه.»
اوس چې د ۲۰۱۶ ام کال د اکتوبر مياشت وروستۍ ورځې دي او د امين ملنګ د نهه پنځوسم تلين له پاره ځينې قلموال او مينه وال مقالې او شعرونه خپروي، ما هم لازمه وګڼله چې په د ملنګ جان د ملي شخصيت د درناوي په پار، خپله ياده مقاله په بريښنايي رسنيو کې له درنو لوستونکو سره شريکه کړم:

# «دا غم دې تل په ما وي...»

د څلويښتم ځل له پاره بيا هغه ورځ راغله، چې د پښتو شعر له بڼ نه د فلک خوني منګلولو، يو ګل شکولی و. نن هغه ورځ ده چې څلويښت کاله پخوا زموږ فرهنګيانو، زموږ په آبادو کوڅو کې د پښتو شعر د ملنګ جنازه پر اوږو وړله او نن په هماغې نيتې د پښتو شعر او ادب نور ملنګان، په ورانو کوڅو کې د هماغه ملنګ قدمونه پيدا کوي او پل ور باندې ږدي او همغه ترخه، د حقيقت د مونډلو له پاره غوړپ کوي.
د مرګ استازی له يوې خوا موږ سره دښمني کوي او هره شيبه يو ګل را نه رژوي، له بلې خوا يې داسې کلکه خپلوي را سره نښلولې ده، چې دا ډيره موده کيږي زموږ په انګړ کې، زموږ په کوڅه او زموږ په بڼ کې، له خپلې ناولې خيرې سره ولاړ دی او زموږ د فرهنګ بوټی له ستې وباسي او خپله تنده زموږ د هيوادوالو په وينه ماتوي.
لا څلويښت کاله مخکې، د مرګ همدې نا بللي شوي استازي، زموږ د شعر بڼ بې باغوانه او زموږ د شعر کوڅې يې بې ملنګه کړې، د همدې له امله خو زموږ ويجاړې کوڅې، بې ملنګه ښې نه ايسيدې؛ چې د ملنګ جان خوږو نغمو زموږ د فرهنګ په کوڅو کې د شعر نور ملنګان و روزل. د ملنګ جان شعر دومره ملنګ و، چې په هره کوڅه کې يې د پل اينښودلو ځای و موند؛ خو د افغانستان په موسيقي کې يې ځان ته تر ټولو ښکل تخت جوړ کړ. په افغانستان کې به داسې لږ سندرغاړی وي، چې د ملنګ جان شعر يې نه وي زمزمه کړی، داسې لږ سندرغاړی به وي چې يو وار يې نه وي زمزمه کړي چې:

دا زموږ زيبا وطن — دا زموږ ليلا وطن
دا وطن مو ځان دی — دا افغانستان دی

ژوندون د ملنګ جان دی
دا افغانستان دی


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د شاعرانو درک او پېژندنه معمولاً د ټولني په لوستي قشر کي کيږي، خو د ملنګ جان او د ده له شعرونو سره دومره چي زموږ د ټولني لوستی قشر بلديت لري، له هغه نه يې زيات نا لوستي او عام خلک ښه پېژني او مينه ور سره کوي.
که د بهايي جان شعر ته د لوګري موسيقي سر تاج و وايو، نو ښايي چي د ملنګ جان شعرونه د ټول افغانستان د ملي موسيقی او په ځانګړي ډول د مشرقي موسيقی سرتاج وي. د ملنګ جان لړ داسي شعرونه به وي چي د موسيقی په قالب کي نه وي راغلي. د ده ملنګ شعر و چي ډير سندرغاړي يې د شهرت لوړو پلازونو باندي کينول او هغو ملنګو سندر غاړو، له همدي شعر سره ځانونه داسي ملنګان کړي وو، چي باجه په غاړه په سپيرو ډاګونو يا لوڅو پوزيانو باندي ولاړ او د سپوږمی د پروجکتور تر رڼا لاندي يې د خلکو غوږونو ته د ملنګ خوږ کلام رساوه. لکه استاد اولمير، استاد منور، استاد غياث، طلا محمد، نعمت الله او نور.
له ملنګ جان سره د شعر آلهي داسي ملګرتيا نښلولي وه، چي يوه شيبه به نه ور نه لري کيده، دی به يې هره شيبه تخناوه او داسي يي ملنګ کړی و، چي ټول عمر يي دلبر، دلبر ويل:

ای عشـقـه نـــا مـراده، تا څـه پـه غمو سـر کـړم
عـالـم زيست او روزګـار کـا، زه تـل خون جګر کړم
څوک زُهد او زاهدي کا، څوک مال او عزت غواړي
د عشق چلـه خـانــه کـي، زه نــاست دلبر، دلبر کړم

ملنګ جان د خپلو شعرونو له لاري، خپل ژوند د افغانستان د ټولو خلکو له ژوند او فرهنګ سره غوټه کړی و. د ملنګ جان د ژوند او آثارو په باب ډير څه بايد و ويل شي، خو...
سره له دي چي د ملنګ جان شعرونه زموږ د هري حجري لومړی کلام او لومړی خبره ده، خو اوس چي د جګړي تورو او وسپنيزو بوټانو، زموږ د شاعرانو او سازيانو پر ستونو او ژبو باندي درانه پلونه ايښي دي او د سندرغاړو پر خولو او حنجرو باندي د چوپتيا تور مُهرونه لګول شوي دي؛ د هغي ورځي په هيله يو چي د ملنګ جان ټول لاروبان، سر را پورته کړي.

او دا دی د ملنګ جان د لمريز ژوند يو لمر څرک:

ـ دی د پښتو شعر د کوڅو پښي لوڅی ملنګ و،

ـ دی د آزادی د ښايسته ښځ سر سپارلی بورا و،

ـ دی په رښتيا ويلو کي په رښتيا سره امين و،

ـ دی د پښتو د اوسني شعر د شعار تر ټولو قوي نماينده دی، چي خپل دغه شعارونه کله، کله د شعريت له پولو هم ور اړوي او دغه شعري شعارونه داسي لګيدلي دي، لکه د کاري توري ګوزار،

ـ د ده د زړه ګل د آزادی په شمال ښوريده،

ـ دی د آزاد وطن د پښتني غيرې خوشال ماشوم و،

ـ ده موږ ته د غم دولت را ډالی کړی دی،

ـ ده د ټولو افغانانو په زړونو کي پټ شاعرانه او عاشقانه ليکونه ليکلي دي،

ـ دی د هر لوستونکي په زړه کي د مينی زړی کري،

ـ د ده په زړه کي په زرګونو نور شعرونه او نوري تراني پاتي شوي،

ـ له ده سره زماني هغه وکړل، چي د ويلو وړ نه دي،
ـ دی خو ځکه ملامت و، چي شاعر و،

ـ د ده د بخت د ناوي پښي په نکريزو وي، ځکه ور ته راتلای نه شوه،

ـ د ده زړه د شعرونو زيارت و، ځکه خو اوس ډير زيارت کونکي ور روان دي،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

**ـ ده د شعر آلهه ليدلي وه، ځکه خو يې هر څه هير وو،**

**ـ ده به چې په خاورو کې هم ګوتې وهلې، شعر به ور نه جوړيده،**

**ـ دی د اوسني پښتو شعر د ګلانو د مخ پرخه ده،**

**ـ د ده اورمېږ د غالامی جغ، تيټ نه شو کړای،**

**ـ د ملنګ جان د ژوند د قاموس تر ټولو ښکلی او با مانا لغت استقلال و،**

او...

ځکه د هيرولو نه دی؛
خو زماني را نه ورژاوه.

«چا وې چې د مينې ګل رژيږي نه
داسې ګـل هږو، زمـا ياديږي نــه»

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولـئ